# فیلیپیانو ته د پولوس رسول لیک

د کتاب پېژندنه

دا لیک پولوس هغې لومړنۍ کلیسا ته چې هغه د روم د مقدونیې په ولایت کې جوړه کړې وه، لیکلی دی. پولوس رسول د فیلیپیې په ایماندارانو باندې ډېر ګران ؤ چې د هغه سره به یې مالي مرستې کولې او پولوس په دې لیک کې د هغوی څخه مننه وکړه. پولوس د دې ښار د ایماندارانو نه ډېره ښه خاطره لرله.

پولوس دا لیک هغه وخت ولیکه چې د روم په ښار کې بندي ؤ. که څه هم ځینو وعظ کوونکو د هغه سره د سیالۍ کولو په خاطر د هغه مخالفت کاوه، خو هغه د هغې خوشحالۍ په هکله خبرې کولې چې د عیسی مسیح د ایماندارانو په برخه به شي. هغه د خپل بندیتوب د موقع نه ګټه اخلي، ترڅو هغوی په دې ډاډه کړي چې د هغو ستونزو سره سره چې د هغه او د هغوی په وړاندې موجودې دي، بیاهم هغوی په خوشحالۍ سره په خدای باندې خپل باور ټینګ وساتي. پولوس د هغوی څخه غواړي چې د دې په ځای چې د خپل ځان نه راضي او مغرور اوسي، باید د عیسی مسیح عاجزانه فکر غوره کړي. پولوس هغوی ته یادونه کوي چې د هغوی ژوند د مسیح سره په یووالي کې دی او دا د خدای یو نعمت دی چې د ایمان په وسیله د هغوی په برخه شوی دی، نه د موسی په شریعت باندې په عمل کولو سره لکه څنګه چې ځینو دروغجنو استاذانو تعلیم ورکاوه.

پولوس د هغې خوشحالۍ او سوکالۍ په هکله لیکي چې خدای یې هغو کسانو ته ورکوي چې د مسیح سره په یووالي کې ژوند کوي. دا لیک په مسیحي ژوند کې د خوشحالۍ، ډاډمنۍ، یووالي او ایمان ساتلو د لیک په توګه بیان شوی دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موضوعګانو لست

سلامونه او دعاګانې: ۱:۱-۱۱

د پولوس شخصي حالت او د ژوند مقصد: ۱:۱۲-۲۶

د ايماندارانو يووالی او مسيحي عاجزي: ۱:۲۷ - ۲:۱۸

د تيموتاوس او اپافروديتوس د خدمت مثالونه: ۲:۱۹-۳۰

په خوشحالی سره په مقصد پسې هلې ځلې ۳:۱ - ۴:۹

د خدای د مرستو او د فيليپيانو د تحفو څخه مننه کول: ۴:۱۰-۲۰

وروستني سلامونه: ۴:۲۱-۲۳



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلامونه

١ ⑴ دا لیک د پولوس او تیموتاوس له خوا چې د عیسی مسیح خدمتګاران دي، د خدای ټولو
خلکو ته چې په فیلیپي کې اوسیږي او د عیسی مسیح سره تړاو لري او د هغوی مشرانو او خادمانو
ته. ⑵ زمونږ د پلار خدای او څښتن عیسی مسیح فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## د لیک د لوستونکو دپاره د پولوس رسول دعا

⑶ زه چې هر وخت تاسو یادوم، نو د خدای شکر وباسم. ⑷ کله چې زه تاسو ټول په خپلو
دعاګانو کې یادوم، دا زما د خوشحالی سبب کیږي. ⑸ ځکه چې تاسو د لومړی ورځې نه تراوسه
پورې زما سره د زیري په خپرولو کې شریک یئ. ⑹ زه په دې ډاډه یم چې خدای چې کوم نیک
کار په تاسو کې پیل کړی دی، هغه به د عیسی مسیح د بیرته راتګ تر ورځې پورې پوره کړي. ⑺
زه حق لرم چې ستاسو ټولو په هکله داسې احساس ولرم، ځکه چې تاسو زما په زړه کې ځای لرئ.
نو که زه په زندان کې یم، یا د زیري نه په دفاع او تصدیق کې بوخت یم، تاسو زما سره د خدای په
فضل کې شریک یئ. ⑻ ځکه خدای زما شاهد دی چې زه څومره د عیسی مسیح په مینه کې
ستاسو ټولو د لیدلو ارمان لرم.

⑼ همدارنګه دا زما دعا ده چې ستاسو مینه دې د علم او پوره پوهې سره نوره هم زیاته شي،
⑽ ترڅو تاسو وکولای شئ هرڅه چې ښه دي غوره کړئ او د مسیح د بیرته راتللو تر ورځې
پورې پاک او بې‌عیبه پاتې شئ. ⑾ ستاسو ژوند دې د عدالت د میوو نه ډک شي چې د عیسی
مسیح په وسیله د خدای د جلال او ستاینې دپاره ترلاسه کیږي.

## مسیح د ژوند مقصد دی

⑿ ای خویندو او ورونو! زه غواړم تاسو په دې خبر شئ څه چې زما سره وشول، په حقیقت کې
هماغه د زیري د خپرولو سبب شو، ⒀ نو د امپراتوری د ماڼی ټول ساتونکي او نور ټول خلک
خبر شول چې زه د مسیح په خاطر بندي شوی یم ⒁ او زما بندي کېدل د دې سبب شوی دی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ډېر زيات ورونه او خويندې په ښبنتن کې دومره ډاډمن شي چې نور هم د دې زړه پيدا کړي چې د خدای کلام بې له وېرې بيان کړي.

١٥ بې له شکه ځينې د مسيح پيغام د بخيلی او سيالی له مخې او ځينې يې په ښه نيت سره وعظ کوي. ١٦ هغوی د مينې له مخې داسې کوي، ځکه پوهيږي چې زه د زېري د دفاع په خاطر دلته راوستل شوی يم. ١٧ خو هغه نور د اخلاص له مخې د مسيح په هکله وعظ نه کوي، بلکې د ځان خوښونې له مخې يې کوي او فکر کوي چې په زندان کې به زما تکليف نور هم زيات کړي.

١٨ څه فرق کوي؟ په هره طريقه چې وي، که هغه د بد نيت له مخې وي يا د ښه نيت، مهمه دا ده چې مسيح خلکو ته اعلان شي. په دې کار زه خوشحاله يم. هو، او خوشحاله به يم، ١٩ ځکه زه پوهيږم چې ستاسې دعاګانې او د عيسی مسيح د روح مرسته به زما د خلاصون سبب شي. ٢٠ ځکه دا زما د زړه غوښتنه او زما هيله ده چې زه به هېڅ ونه شرميږم، بلکې په پوره زړورتيا سره به اوس لکه د تل په شان مسيح ته په خپل بدن کې لويي ورکړم، که دا زما په ژوند وي او يا زما په مرګ باندې تمام شي. ٢١ ځکه چې د ژوند نه زما مقصد مسيح دی او مرګ هم زما په ګټه دی. ٢٢ خو که زه ژوندی پاتې شم، نو وبه کولای شم چې کوم ګټور کار وکړم. خو زه نه پوهيږم چې کوم يو غوره کړم. ٢٣ زه په دواړو کې حيران پاتې يم. زه غواړم چې د دې دنيا نه لاړ شم او د مسيح سره واوسم، ځکه چې دا به ډېر ښه وي. ٢٤ خو زما ژوندي پاتې کېدل ستاسو دپاره ډېر ضروري دی. ٢٥ زه په دې ډاډه يم او په دې پوهيږم چې ژوندی به پاتې شم او تاسو ټولو سره به يم چې تاسو په ايمان کې پرمختګ او خوشحالي وکړئ. ٢٦ کله چې زه بېرته تاسو ته درشم، نو ستاسو سره به ښه دليل وي چې زما له امله په عيسی مسيح کې ډېر زيات وياړ وکړئ.

٢٧ په هر حال، داسې ژوند کوئ چې ستاسو چلند د مسيح د زېري له مخې وي، نو که زه راشم او تاسو ووينم او يا رانه شم، زه غواړم ستاسو په هکله واورم چې په يو روح او يو مقصد کې ټينګ ولاړ يئ او يو د بل سره څنګ ترڅنګ په زېري باندې د ايمان دپاره هلې ځلې کوئ. ٢٨ په هېڅ ډول د خپلو مخالفينو نه مه وېرېږئ، دا به ثابته شي چې هغوی د تباهی خواته روان دي او تاسو به خلاصون ومومئ او دا هرڅه د خدای له خوا دي. ٢٩ ځکه چې دا امتياز تاسو ته درکړل شوی دی چې نه يوازې دا چې په عيسی مسيح باندې ايمان راوړئ، بلکې د هغه په خاطر کړاوونه وزغمئ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(٣٠) تاسو هم په هغې مبارزه کې بوخت یئ چې زه په کې بوخت وم او تاسو خپله ولیدل او خبر یئ
چې زه لا تراوسه هم په کې بوخت یم.

## د مسیح عاجزي او لویي

**٢** (١) که چېرې تاسو په مسیح کې ډاډه یئ، یا د هغه مینه تاسو ته تسلي درکوي، یا د خدای د
روح سره شراکت لرئ، یا ستاسو ترمنځ مینه او خواخوږي وي، (٢) نو تاسو زما خوشحالي پوره
کړئ او په یو فکر اوسئ، یو د بل سره مینه ولرئ، په روح کې سره یو اوسئ او یو مقصد ولرئ. (٣)
د ځان خوښوني او غرور له مخې هېڅ کار مه کوئ، بلکې په عاجزۍ سره نور خلک د ځان نه لوړ
گڼئ. (٤) یوازې د خپل ځان په فکر کې مه اوسئ، بلکې د نورو گټې هم په پام کې ونیسئ. (٥)
هماغه ډول فکر ولرئ لکه څنگه چې عیسی مسیح درلود.

(٦) که څه هم هغه الهي ذات ؤ، خو هغه د خدای سره د برابرۍ څخه د خپل ځان په گټه کار
وانخیست، (٧) بلکې هغه په خپله خوښه د هرڅه نه تېر شو او د یو غلام فطرت یې اختیار کړ. هغه
د انسان په شکل پیدا شو او په انساني جسم کې راښکاره شو. (٨) هغه خپل ځان عاجز کړ او د
تابعدارۍ له مخې مرگ ته حاضر شو او حتی په صلیب باندې مرگ ته. (٩) له همدې امله خدای
هغه ته لوړ مقام ورکړ او هغه ته یې هغه نوم ورکړ چې د ټولو نومونو نه لوړ دی، (١٠) ترڅو د عیسی
په نوم ټول مخلوقات که په اسمان کې دي، که د ځمکې په مخ او که د ځمکې لاندې، هغه ته په
گونډو شي (١١) او ټول د پلار خدای د جلال دپاره په خپله خوله باندې اقرار وکړي چې عیسی
مسیح څښتن دی.

## په دې دنیا کې د ستورو په شان وځلېږئ

(١٢) له دې امله زما گرانو دوستانو، لکه څنگه چې تاسو تل زما اطاعت کړی دی، نه یوازې زما په
شتون کې، بلکې د هغې نه زیات یې اوس زما په نشتون کې هم وکړئ. نو په وېره او لړزېدلو سره
هغه کارونه سرته ورسوئ چې ستاسو د خلاصون د ښکاره کولو سبب گرځي. (١٣) ځکه چې دا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای دی چې په تاسو کې کار کوي او په تاسو کې اراده او قدرت پیدا کوي چې د هغه نېک مقصد پوره کړئ.

۱۴ هر کار پرته له ګوړېدلو او بحث کولو سرته ورسوئ، ۱۵ ترڅو په دې زمانه کې چې ټول بې‌لارې او غلط خلک دي، تاسو د خدای بې‌عیبه، معصوم او لکه د خدای بې‌ګناه اولادونه اوسئ او د هغوی په منځ کې لکه د اسمان د ستورو په شان وځلېږئ. ۱۶ تاسو تل د ژوندون پیغام خلکو ته ورسوئ. که چېرې داسې وکړئ، نو زه به د مسیح د راتللو په وخت کې ویاړم چې نه زما منډې بې‌ګټې شوې او نه مې خوارې بېځایه لاړه. ۱۷ حتی که چېرې لازمه وي چې زما وینه دې لکه د قرباني په شان ستاسو د ایمان د قرباني په خاطر تویه شي، نو زه به خوشحاله یم او ستاسو ټولو په خوشحالي کې به شریک شم. ۱۸ نو تاسو هم خوشحاله اوسئ او زما سره په خوشحالي کې شریک شئ.

## تیموتاوس او اپافرودیتوس په هکله مثالونه

۱۹ زه څښتن عیسی ته هیله‌من یم چې ډېر زر به تیموتاوس درولېږم، ترڅو ستاسو د احوال نه خبر شم، نو خوشحاله به شم. ۲۰ ځکه چې دلته د هغه په شان زما سره بل څوک نشته چې په رښتیا ستاسو په فکر کې وي. ۲۱ ځکه چې نور ټول د خپلو ګټو پسې ګرځي، نه د عیسی مسیح پسې. ۲۲ خو تاسو پوهېږئ چې تیموتاوس خپل لیاقت ثابت کړ چې هغه لکه د یو زوی په شان چې د خپل پلار خدمت کوي، زما سره د زېري په خپرولو کې خدمت کړی دی. ۲۳ نو له دې امله زه هیله لرم چې څنګه زما حال معلوم شي، نو زه به هغه تاسو ته درولېږم ۲۴ او زه په څښتن باندې باور لرم چې په خپله به هم زر درشم.

۲۵ خو اوس ما دا ضروري وګڼله چې زمونږ ورور، د خدمت ملګری او همکار عسکر اپافرودیتوس تاسو ته درولېږم چې هغه ستاسو پیغام رسوونکی دی او تاسو هغه زما د اړتیاوو د پوره کولو دپاره لېږلی ؤ. ۲۶ ځکه چې هغه ډېر ارمان لري چې تاسو ټول وویني او هغه خفه دی، ځکه چې تاسو د هغه د ناروغۍ نه خبر شوي وئ. ۲۷ هغه په رښتیا ناروغه ؤ او مرګ ته نژدې ؤ، خو خدای په هغه باندې رحم وکړ او یوازې په هغه نه، بلکې په ما یې هم وکړ چې په ما باندې د غم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاسه غم رانه شي. ﴿۲۸﴾ نو زه ډېر غواړم چې هغه تاسو ته درولېږم چې يوځل بيا د هغه په ليدلو
خوشحاله شئ او زما غم هم کم شي. ﴿۲۹﴾ نو هغه ته د ښبتن په نوم په ډېرې خوشحالۍ سره
هرکلی ووايئ او د هغه په شان خلکو ته درناوی کوئ. ﴿۳۰﴾ ځکه چې هغه مسيح ته د خدمت په
لاره کې مرګ ته نژدې شوی ؤ او هغه خپل ژوند د هغه خدمت دپاره په خطر کې واچاوه چې تاسو
زما دپاره ونه کړای شو.

## ربنتينی عدالت

۳ ﴿۱﴾ اخر دا چې ای خويندو او ورونو! د ښبتن سره په يووالي کې خوشحالي کوئ. دا زما
دپاره کوم تکليف نه دی چې تاسو ته هماغه شيان يوځل بيا ليکم او په دې کې ستاسو امن او
سلامتي ده.

﴿۲﴾ د هغو خلکو سره چې د سپيانو په شان دي او د هغوی سره چې بدکاره دي، احتياط کوئ چې
په دې ټينګار کوي چې تاسو سنت کړي يعنې د خلاصون دپاره ستاسو د بدن يو غړی پرې کوي.
﴿۳﴾ ځکه مونږ ربنتيني سنت شوي خلک يو، مونږ چې د روح په وسيله د خدای عبادت کوو. مونږ
په عيسی مسيح باندې وياړ کوو او د جسماني مراسمو په سرته رسولو باور نه لرو، ﴿۴﴾ که څه هم
زما سره دليل شته چې په خپل ځان باندې تکيه وکړم. که چېرې نور خلک فکر کوي چې په
جسماني مراسمو باندې تکيه کولای شي، نو زه د هغوی نه زيات کولای شم. ﴿۵﴾ کله چې زه د اتو
ورځو وم، سنت شوم. زه د اسراييلو د قوم او د بنيامين د قبيلې څخه يم او اصلي عبرانی يم او د
شريعت د مراعت کولو په لحاظ فريسي وم. ﴿۶﴾ زه دومره غيرتي وم چې د عيسی مسيح پيروان به
مې ځورول او د شريعت د عادلانه معيارونو له مخې زه بې‌عيبه انسان وم. ﴿۷﴾ خو هرڅه چې زما
په ګټه وو، زه يې اوس د مسيح په تاوان ګڼم. ﴿۸﴾ هو، يوازې دا نه، بلکې زما د ښبتن عيسی مسيح
پېژندل دومره قيمتي ؤ چې ما هرڅه د هغه په خاطر تاوان وګڼل. ما د هغه په خاطر هرڅه ايسته
وغورځول او هغه ټول مې لکه د چټليو په شان وګڼل، ترڅو مسيح خپل کړم ﴿۹﴾ او د هغه سره يو
شم. زه نور خپل ځان په شريعت باندې په عمل کولو سره عادل نه ګڼم، بلکې په مسيح باندې د ايمان
په وسيله عادل شوی يم، هغه ربنتينولي چې په ايمان باندې ولاړه ده او د خدای له خوا راځي. ﴿۱۰﴾



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه غواړم چې مسیح او د هغه د بیا راژوندي کېدلو قدرت وپېژنم، د هغه سره په کړاوونو کې شریک شم او د هغه په مرګ کې د هغه په شان شم، ⑪ ترڅو د هرې لارې چې وي، زه هم د مړو نه بېرته د تل پاتې ژوند دپاره راژوندی شم.

## په هدف پسې هلې ځلې

⑫ زه دا نه وایم چې ما دا هرڅه لا مخکې ترلاسه کړي دي او کامل شوی یم، بلکې د هغه د ترلاسه کولو دپاره هلې ځلې کوم، ځکه چې مسیح زه خپل کړی یم. ⑬ ای خویندو او ورونو! زه فکر نه کوم چې هغه مې ترلاسه کړي دي. خو یو کار چې زه یې اوس کوم، هغه دا دی چې څه چې تېر شوي دي هغه هېر کړم او هغه څه چې مې مخکې دي د هغو دپاره ډېر کوښښ وکړم. ⑭ زه د هدف پسې هلې ځلې کوم، ترڅو هغه جایزه ترلاسه کړم چې د هغې دپاره خدای زه د عیسی مسیح په وسیله اسماني ژوند ته بللی یم.

⑮ مونږ ټول چې په روحاني توګه بالغان یو، باید همداسې فکر ولرو، او که په تاسو کې څوک بل ډول فکر لري، نو خدای به هغه تاسو ته ښکاره کړي. ⑯ په هر حال، راځئ چې د هغه معیار له مخې په مخ لاړ شو چې مونږ ورته رسېدلي یو.

⑰ ای خویندو او ورونو! زما د مثال نه پیروي وکړئ او هغو خلکو ته خپل پام راوګرځوئ چې زمونږ په شان ژوند تېروي. ⑱ ځکه ما څو څو ځلې تاسو ته ویلي دي او یوځل بیا یې درته د خپلو سترګو په اوښکو سره وایم چې ډېر خلک داسې ژوند کوي چې د عیسی مسیح د صلیب د رښتینې معنی سره دښمني لري. ⑲ د هغوی پای تباهي ده او د هغوی خدای د هغوی جسماني غوښتنې دي او هغوی په خپلو د شرم نه ډکو کارونو باندې ویاړ کوي. هغوی یوازې د دنیاوي شیانو په فکر کې دي. ⑳ خو مونږ په اصل کې د اسمان اوسېدونکي یو او د خپل خلاصوونکي ښښتن عیسی مسیح د راتللو په انتظار یو چې د اسمان نه به راځي. ㉑ هغه به زمونږ کمزوری بدن داسې بدل کړي چې د هغه د جلال نه ډک بدن په شان شي. دا کار به د هغه قدرت په وسیله ترسره کیږي چې ټول شیان د خپل ځان تابع کړي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ۱ نو ای زما ګرانو خویندو او وروڼو! زه ستاسو د لیدلو په ارمان یم. تاسو زما خوشحالي او زما ویاړ یئ. نو بیا ای ګرانو دوستانو، په څښتن کې همداسې ټینګ اوسئ.

## هڅوني او لارښووني

۲ زه افودیه او سینتیخې ته زاري کوم چې په څښتن کې په یو فکر اوسئ. ۳ هو، زما رښتینی ملګریه، ستا څخه غوښتنه کوم چې د دې دوه ښځو سره مرسته وکړې، ځکه چې هغوی د کلیمانتوس او زما د نورو همکارانو سره د زیری په خپرولو کې څنګ ترڅنګ هلې ځلې کړې دي او نومونه یې د ژوندون په کتاب کې لیکل شوي دي.

۴ تل په څښتن کې خوشحالي کوئ او بیاهم وایم چې خوشحاله اوسئ. ۵ پرېږده چې ستاسو نرم مزاجي او مهرباني ټولو خلکو ته ښکاره شي. څښتن به زر راشي. ۶ د هیڅ شي په هکله اندېښنه مه کوئ، بلکې تل د شکرګزارۍ په دعاګانو او زاریو سره خپلې غوښتنې د خدای حضور ته وړاندې کوئ. ۷ نو بیا د خدای سوله او سلامتي چې د انسان د پوهې نه لوړه ده، ستاسو زړونه او خیالونه به د عیسی مسیح په وسیله خوندي وساتي.

۸ اخر دا چې ای خویندو او وروڼو! هر هغه څه چې رښتیا، عزتمن، عادلانه، پاک، زړه وړونکي، ښکلي او هغه څه چې ډېر ښه او د ستاینې وړ دي، د هغو په هکله فکر کوئ. ۹ هغه څه چې تاسو زما نه زده کړي او حاصل کړي دي یا مو زما نه اورېدلي او لیدلي دي، هغه سرته ورسوئ، نو بیا به خدای چې د سولې او سلامتی سرچینه ده، ستاسو سره مل وي.

## د خدای د مرستو او د فیلیپیانو د تحفو څخه مننه کول

۱۰ زه په څښتن کې ډېر خوشحاله یم چې له څه مودې وروسته یوځل بیا ستاسو پام زما خواته شو. زه پوهېږم چې تاسو په رښتیا زما سره علاقه درلوده، خو تاسو سره د هغو د ښکاره کولو موقعه پیدا نه شوه. ۱۱ زه دا خبرې د دې دپاره نه کوم چې محتاج یم، بلکې دا مې زده کړل چې زه په هرحال کې یم، راضي یم. ۱۲ زه پوهېږم چې څرنګه په غریبۍ کې یا شتمنۍ کې ژوند وکړم. ما په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر ډول حالاتو کې ژوند کړی دی او د ژوند کولو راز مې زده کړی دی، که زه موړ وم یا وږی یا که
محتاج وم یا هرڅه مې لرل. ۱۳ زه د مسیح په وسیله چې ماته قوت راکوي کولای شم چې هر
حالت تېر کړم.

۱۴ په هر حال دا ستاسو مهرباني وه چې زما سره مو په سختیو کې مرسته وکړه. ۱۵ ای د فیلیپي
د ښار ایماندارانو، تاسو ښه خبر یئ چې د زېري د رسولو په لومړیو ورځو کې کله چې زه د مقدونیې
څخه روان شوم، نو هېڅ یوه کلیسا زما سره په ګټه او تاوان کې شریکه نه شوه، پرته له تاسو نه. ۱۶
حتی کله چې په تسالونیکیه کې وم څو ځلې مو زما د اړتیاوو د پوره کولو دپاره مرسته راولېږله.
۱۷ زه دا خبره د دې دپاره نه کوم چې ستاسو نه صرف کومه مالي مرسته ترلاسه کړم، بلکې زه
غواړم چې ستاسو د نېکو کارونو اجر دې ستاسو په حساب کې ورزیات شي. ۱۸ خو اوس ستاسو
هرڅه ماته راورسېدل او حتی زما د اړتیا نه زیات. تاسو چې د اپافرودیتوس په لاس کومې مالي
مرستې رالېږلې وې په هغو باندې زما اړتیاوې په کامله توګه پوره شوې. دا هغه د خوشبویۍ نذرانه او
قرباني ده چې خدای ته قبوله او د هغه خوښه ده. ۱۹ زما خدای به ستاسو ټولې اړتیاوې د خپلې
پرېمانه شتمنۍ له مخې د عیسی مسیح په وسیله پوره کړي. ۲۰ خدای ته چې زمونږ اسماني پلار
دی، تل ترتله جلال وي. امین.

وروستني سلامونه

۲۱ د خدای ټولو خلکو ته چې د عیسی مسیح سره تړاو لري، سلامونه ووایئ. کوم ورونه چې زما
سره دي، هغوی هم تاسو ته سلامونه وایي. ۲۲ د خدای ټول خلک چې دلته دي تاسو ته سلام
وایي، په ځانګړې توګه هغوی چې د روم د امپراتور په ماڼۍ کې اوسېږي. ۲۳ په تاسو ټولو باندې
دې د ښبنتن عیسی مسیح فضل وي.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.